AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقیري ۲۰۱۸/۱۰/۰۶

# ماکیاولي، مزدور او خارجي عسکر، او اریک پرینس

«د یو سیاسي مشر لپاره مزدور او خارجي عسکر تل خطرناکه او بې فایدې وي. هغه سیاسي مشر چې د خپل دولت تکیه پر خارجي او یا مزدورو عسکرو باندې کوي، هغه سیاسي مشر به هیڅکله محفوظ نه وي.» ( شهزاده -ماکیاولي)

پدې تېرو څو ورځو کې په افغانستان کې د مزدورو او خارجي عسکرو هنګامه خورا توده ده. په افغانستان کې د مزدورو عسکرو مسئله هله تاوو واخیست چې د بلک واټر مشر اریک پرینس کابل ته سفر وکړ، او هلته ئې د ځینو افغانانو سره خپله مفکوره شریکه کړه. البته، له هغه وخت راهیسې چې جمهور رئیس ټرمپ سپیني ماڼۍ ته داخل سوی دئ، او د اریک پرینس خور د ټرمپ په کابینه کې د معارفو وزیره سوې ده، اریک پرینس د افغان د جنګ د خصوصي کولو لپاره کوښښونه پیل کړي دي.

خو د مزدورو او خارجي عسکرو استخدام په سیاسي فلسفي کې اوږده تاریخي سابقه لري، او د دې مفکورې یو مهم شرح کونکی د ایټالیا مشهور سیاسي فیلسوف ماکیاولي (۱۴۶۹) دئ. د ماکیاولي مشهور کتاب «شهزاده» دئ. پدې کتاب کې ماکیاولي دوه فصله د «مزدور» او «خارجي» قواوو استخدام ته وقف کړي دي. په مجموع کې، ماکیاولي خپل شهزاده ته دا سپارښت کوي چې هیڅکه پر مزدورو او یا خارجي عسکرو باندې تکیه و نه کړي، ځکه هغه سیاسي مشران چې پر خارجي او مزدورو عسکرو باندې تکیه وکړي، پخپلو خلکو کې بې عزته او سپکېږي، او بالاخره خامخا سقوط کوي.

ماکیاولي د شهزاده په دولسم او دیرلسم فصلونو کې د مزدورو او خارجي عسکرو په باب لیکي: یو سیاسي مشر باید قوي بنیاد ولري، ځکه په بل صورت کې د هغه رانسکورېدل محتومېږي. د ټولو دولتونو د بنیاد اساسي ګټه پر ښو قوانینو او ښو عسکرو باندې ولاړه وي. دا دواړه یو بل ته لازم او ملزوم دي. د یوه دولت د استحکام لپاره عسکر یا باید بومي وي، او یا خارجي او مزدور وي.

ماکیاولي وایي هغه سیاسي مشرانو چې پر خارجي او یا مزدورو عسکرو باندې تکیه کړې وي، او یا د هغوی په زور حکومت کوي، د هغوی د قدرت اداني لړزانه وي. ځکه خارجي او مزدور عسکر غیر منظم، خود خواه، خود غرضه، او بې وفا وي. مزدور عسکر د دښمن په مقابل کې بې همته وي، خو د دوستانو په مقابل کې ګستاخ وي. هغوی نه له خدایه ډارېږي، او نه هم چا ته وفاداره وي.

مزدور عسکر د جنګ په میدان کې تبنتي، ځکه هغوی یوازې د خپل معاش په غم کې وي، او چور او تالان کوي. مزدور عسکر هیڅکله نه غواړي چې ستاسي لپاره ځانونه مړه کړي. مزدور عسکر تر هغه وخت ستاسو یاران وي چې جنګ نه وي، خو کله چې جنګ ښخ سي، هغوی د جنګ له میدانه تښته کوي.

ماکیاولي وایي که چیرې د مزدورو عسکرو (ملیشاوو) قومندانان ماهر او زړور کسان وي، تاسي پر هغوی باندې اعتماد نه سئ کولای، ځکه هغوی خپله اجنډا لري. هغوی د قدرت تږي وي، پله بینه او ناځوانه وي. هر وخت چې ئې پله صافه سي، پر تاسو باندې حمله کوي، او یا پر هغو خلکو باندې برید ښخوي چې تاسي ورسره هیڅ دوښمني نه لرئ. بلخوا، که چیرې د مزدورو عسکرو قومندانان لټ او بې همته وي، تاسي حتما تباهی ته کشوي.
ماکیاولي علاوه کوي تاریخي تجربو بار بار دا ښودلې ده چې هغه دولتونه بقا او پراختیا مومي چې عسکر او وسلې ئې خپلې وي. یو دولت هله پایښت پیدا کوي چې عسکر ئې وفاداره وي، د جنګ په میدان کې بهادر وي. حکومت ئې پر خپلو خلکو باندې اعتماد ولري، او خلګ ئې مسلح وي. همدا وجه ده چې د سویس خلک تل مسلح وي، او تر بل قوم آزاد او مستقل دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د خارجي عسکرو په باره کې ماکیاولي کاږي چې خارجي عسکر هم بې فایدې وي. خارجي عسکر عموماً ستاسې د قدرتمنو ګاونډیانو عسکر وي چې تاسې د ځان د ساتلو او کومک لپاره راغوښتې وي. پر خارجي قواوو باندې تکیه کول تل ستاسو په زیان تماميږي، ځکه که چیرې جنګ بایلوئ، تاسې بالکل ختم یاست. او که چیرې جنګ وګټئ، تاسې د همدې خارجي قواوو غلامان کيږئ. تاریخ بیا بیا دا ښودلې ده چې هغه سیاسي مشران چې د پردیو عسکرو په قوت تاج او تخت ګټلی وي، هغوی بقا نه لري.

د مزدورو او خارجي عسکرو په مینځ کې تفاوت دا دئ چې مزدور عسکر تل بې همته وي، خو خارجي عسکر مدام بهادر او موثره وي. د خارجي عسکرو زړورتیا او موثریت ستاسو د تباهی سبب ګرځي.

نو لهذا، پوه او هوښیار مشران مدام له خارجي او مزدورو عسکرو څخه لیرې ښوروي، او یوازې پر خپلو مټو او خپلو عسکرو باندې تکیه کوي. هوښیار او وطنپال مشران پدې قناعت کوي چې پخپلو خلکو او وسلو باندې کامیابه سي، نه د خارجي او مزدورو عسکرو په طاقت باندې. ځکه د نورو په زور موفقه کېدل، په حقیقت کې بری نه دئ.

د همدې دوو فصلونو په پای کې ماکیاولي دې نتیجې ته رسيږي چې هیڅ دولت پرته د خپلو عسکرو څخه مصون نه وي. سیاسي فیلسوفان مدام پدې عقیده دي چې هیڅ مشر دونه سپک، محقر، او بې ثباته نه وي، لکه هغه څوک چې د خارجي او یا مزدورو عسکرو په زور پر قدرت ناست وي.

د یوه سیاسي مشر اصلي طاقت د هغه خپل خلک وي. هغه مشران چې پر خپلو خلکو باندې تکیه کوي، هغوی مدام کامیابه وي. د هغوی نوم او نښان د ابد لپاره پاته وي. تاریخ او خلک د عزت په سترګه ورته ګوري. خو هغه مشران چې د پردیو په زور حکومت کوي، هغوی مدام سپک او ریشخند وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ